The Asia Foundation

# مطبوعاتي اعلاميه

## د ایشیا فونډیشن لخوا د افغانستان د ۲۰۱۰م کال د نظر پوښتنې د پایلو اعلان

*د امنیت، ودې او پراختیا، اقتصاد، حکومتوالی، اداري فساد او د ښځو د ستونزو په اړه د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې د څه د پاسه ۶۰۰۰ خلکو د نظرونو ښکارندویه*

**کابل، واشنګټن ډي سي او سانفرانسیسکو- د ۱۳۸۹ کال د لړم اتلسمه (د ۲۰۰۹ کال د نوامبر ۹مه)** – نن ایشیا فونډیشن په افغانستان کې د خپلې نظرپوښتنې پایلې چې د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې تر سره شوې، خپرې کړې. "*افغانستان په ۲۰۱۰ کال کې: د افغانستان د خلکو سروې*" شپږمه سروې ده چې د ایشیا فونډیشن په واسطه په افغانستان کې سرته رسیږی. د یادونې وړ ده چې دغه دفتر پخوا په ۲۰۰۴، ۲۰۰۶، ۲۰۰۷، ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونو کی هم عامه نظر پوښتنې تر سره کړې دي. شپږ واړه سروې ګانې په ټولیزه توګه په ټول هیواد کې د عامه افکارو د سنجونې کره او اوږدمهالې وسیله ده چې کولای شي د هیواد د وضعیت او تګ لورې د ارزونې لپاره ګټور واقع شي. د دغې سروی سیمه ایز کار د ۱۳۸۹کال د غبرګولي له ۲۸مې د چنګاښ تر ۱۴مه پوری د سلواغې میاشتې له پارلماني ټاکنو څخه مخکې تر سره شو. په دې سروې کې له ۶۴۶۷ تنو افغانانو سره چې په راندم یا ناټاکلی (تصادفی) او څو پړاویزه طریقه ټاکل شوي وو مخامخ مرکې وشوې. نوموړي افغانان اتلس کلن یا تر هغې زیات عمر لرونکي، ښځې او نارینه له بیلابیلو ټولنیزو، اقتصادي او قومي ټولنو او له ښارونو او کلیوالي سیمو څخه وو.

تاسو کولای شئ د افغانستان د ۲۰۱۰م کال بشپړه سروې د [http://asiafoundation.org/ag2010poll](http://asiafoundation.org/ag2010poll) له وېبپاڼې څخه تر لاسه کړئ.

د سږ کال د سروې موندنې ښیي چې ۴۷ سلنه افغانان فکر کوي چې هیواد په سم لوري روان دئ. دا شمیره د ۲۰۰۸ کال (۳۸٪) او ۲۰۰۹ کال (۴۲٪) په پرتله لوړه شوې ده. د هغو سروې شویو افغانانو شمیره چې وايي هیواد په ناسم لوري روان دی(۲۷٪) د ۲۰۰۸ کال (۳۲٪) او ۲۰۰۹ کال (۲۹٪) په پرتله راټیټه شوې ده. پاتې ۲۲ سلنه مختلط نظر لري (۲۳٪ په ۲۰۰۸ او ۲۱٪ په ۲۰۰۹ کې).

د تیرو کلونو په شان سږ کال هم امنیت د یو لوی لامل په توګه چې په واسطه یې افغانان د خپل هیواد تګ لوری ارزوي، پاتې شوی ده. ښه امنیت د ځواب ورکوونکو د خوشبینی د اصلي لامل په توګه ګڼل کیږي چې د ۳۸٪ ځواب ورکوونکو له خوا، چې وايي هیواد په سم لوري روان دی، یاد شوی ده. دا شمیره د ۲۰۰۹ کال په پرتله چې ۴۴٪ وه راټیټه شوې ده. همداراز، بیارغاونه (۳۵٪) او د نجونو د ښوونځیو پرانیستل (۱۵٪) په ۲۰۱۰ کال کې د خوشبینی د نورو لاملونو په کتار کې راځي.

له ناامنی څخه د بدبینی د لوی لامل په توګه یادونه شوې څرنګه چې ۴۴٪ ځواب ورکوونکي، چې وايي هیواد په ناسم لوري روان دی، نا امني د خپلې بدبینی یو لوی لامل بولي چې د ۲۰۰۹ کال (۴۲٪) په پرتله یوڅه زیاتوالی پکښې راغلی ده. د هغو ځواب ورکوونکو شمیر چې اداري فساد د خپلې بدبینی د دلیل په توګه ذکر کوي په ۲۰۱۰ کال کې ۲۷٪ ته رسیدلی چې د ۲۰۰۹ کال په پرتله چې ۱۷٪ ځواب ورکوونکي په دې نظر وو، یو روښانه زیاتوالی ښکاروي. د بدبینی نور مهم دلیلونه چې د ځواب ورکوونکو له خوا یاد شول د حکومت کمزورتیا (۱۸٪) او وزګاري (۱۶٪) ده. سږ کال بیا هم وزګاري په ملي کچه (۳۵٪) او سیمه ییزه کچه (۲۶٪) د تر ټولو جدي ستونزو په کتار کې راغله.

د ۲۰۱۰ کال سروې چې د ۲۰۰۴ کال د سروې په پرتله خورا پراخه وه او په ۲۰۰۶، ۲۰۰۷، ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونو کې د ترسره شویو سروې ګانو په دوام تر سره شوه د علاقې وړ بنسټیزې موضوع ګاني يې را وسپړلې خو په ورته وخت کې داسې عیاره شوې وه چې اوسني وضعیت سره يې سمون خوړ او پیاوړې میتود پکښې کارول شوی وو تر څو د اوسنیو محدودیتونو او ننګونو ځواب ویونکې وي. ددې انعکاس په اوسنی سروې کې په دې توګه شوی چې د پارلماني ټاکنو، ودې او پراختیا، اداري فساد او د مخالفینو د بیا پخلاینې په هکله زیاتې پوښتنې پکښې ځای پر ځای شوې وې.

د 2009 م کال نظر پوښتنه چې د امریکی د متحده ایالاتو د نړیوالی پرمختیایي اداری له خوا تمویل شوې، د ایشیا فونډیشن له خوا طرح، اداره او تصحیح شوه. ټولې مرکې د 634 تنه ښځینه او نارینه مرکچیانو په واسطه چې د ټولنیز- اقتصادي او عامه نظرياتو د څیړنو افغانی مرکز (ACSOR) له خوا استخدام شوي وو ترسره شوې. ورته سروې ګاني به په ۲۰۱۱ او احتمالاً ۲۰۱۲ کلونو کی هم ترسره شي. ایشیافونډیشن د پیچلو او تجربي سروې ګانو په تر سره کولو کې شهرت لري په کومو کې چې د عامو وګړو اندېښنې، اړتیاوې، د ملاتړ کچه او د پراختیا بهیر سنجول کیږي او د پالیسي د اړوندو بحثونو لپاره معلومات را غونډول کیږي.

تاسو کولای شی بشپړه سروې، د سروې مهمې موندنې، ډیرې کیدونکې پوښتنې او د مهمو موندنو او مطبوعاتي اعلامیې پښتو او دري ژباړه زمونږ له ویبپاڼې څخه تر لاسه کړئ.

**په افغانستان کې د ایشیا فونډیشن په هکله**

ایشیافونډېشن د افغانستان خلکو سره دوامداره مرسته او له هغو څخه ملاتړ کړی ده. ایشیافونډېشن په ۱۹۵۴ کال کې په کابل کې خپل دفتر پرانیست او د اتیایمي زیږدیزې لسیزې تر لومړیو پورې يې دهیواد دننه پروګرامونه پر مخ بووړل. د اتیایمي زیږدیزې لسیزې له وروستیو څخه د نوییمي زیږدیزې لسیزې تر منځنیو کلونو پورې ایشیافونډېشن د پاکستان له پشاور څخه د افغانستان له مدني ټولنې او خلکو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړ. د ۲۰۰۲ م کال د فبروری په میاشت کې د ایشیا فونډیشین د کابل دفتر ددې لپاره بیا پرانستل شو تر څو هغه پروګرامونه په لار واچوي چې د طالبانو د حکومت نه وروسته د افغانستان د پرمختګ لپاره ضروري وو. له هماغه وخت څخه را په دیخوا، د ایشیا فونډیشن د کابل د دفتر کارکوونکو چې ډیری يې افغانان دي، له افغانانو سره د موقت حکومت په جوړولو، د اساسي قانون په جوړولو، د ټول هیواد د رایې ورکوونکو په نوم لیکنه، مدني پوهاوي، د رسنیو د څارنې او د ټولټاکنو په پلانولو کې د تخنیکي مرستو په ترڅ کې، د هیواد د بیاوداونولو په هڅو کې مرستې کړې. همدارنګه ایشیا فونډیشن د حکومت د اجرایي څانګې له مرکزي مهمو بنسټونو سره اوږد مهاله او ارزښتناکه مرستې کړې دي.

**د ایشیا فونډیشن په هکله**

ایشیا فونډیشن یوه نا دولتی او غیر انتفاعی اداره ده چې د آرامه او سوکاله، پیاوړې، د عدل نه ډکی آسیا او اوقیانوسیې سیمې منځ ته راوړو ته ژمنه ده. ایشیا فونډیشن په آسیا کی د قوانینو او حاکمیت د ځواکمنولو، اقتصادی اصلاحاتو او پراختیا، د ښځو د ځواکمنولو او نړیوالو اړیکو په برخه کی مرستی کوي. د خپلې تر ۶۰ کلونو زیاتې تجربې په رڼا کی، ایشیا فونډیشن په آسیا کی د دولتی او شخصی همکارانو سره د رهبری یا مشرۍ، د تاسیساتو په جوړولو، د افکارو او وړتیاوو د تبادلې او د کړنلارو په هکله د پلټنو په برخو کی په ګډه کار کوی.

ایشیا فونډیشن په ټوله آسیا کی ۱۸ سیمه ییز دفترونه لری چی سر بیره پر هغو یو دفتر يي په واشنګټن ډی- سی او مرکزي دفتر یی د امریکا په سانفرانسسکو کې دی د کومو له لاری چې ایشیا فونډیشن په سیمه ایزه او ملي کچه د چارو پالنه کوی. ایشیا فونډیشن په ۲۰۰۹ کال کی له ۸۶ میلیونو امریکایی ډالرو نه زیاته بسپنه د

پروګرامونو په برخه کی برابره کړی او همدارنګه یی د ۴۳ میلیونه امریکایی ډالرو په ارزښت شاوخوا یو ملیون کتابونه او درسی مواد په ټوله آسیا کی ویشلی دی.

**د رسنیو د اړیکو مرجع:**

په کابل کی: مسیح الله ستانکزی
بریښنا پته: mastanikzai@asiafound.org
تلیفون: 0093(0)793-651-095

په کابل کی: سید مصطفی نجم
برېښنا پته: mnajem@asiafound.org
تلیفون: 0093(0)799-325-852

په سانفرانسیسکو کي: امی اوول
بریښنا پته: aovalle@asiafound.org
تلیفون:+1-415.743.3340

په سانفرانسیسکو کي: ایلین سیم
بریښناپته: esim@asiafound.ogr
تلیفون: +1-415.743.3318

په نیویارک کی: برینت جونز
برېښنا پته: bjones@asiafound.org
تلیفون: +1-415.238.0969